هیواد
ورځپاڼه

مؤسس: عبدالرووف بېنوا
د تاسیس کال ۱۳۲۸ لمریز
شنبه د محرم الحرام ۲۳ مه ۱۴۴۷ق کال، د چنګاښ ۲۸ مه ۱۴۰۴ ل کال، د جولای ۱۹ مه ۲۰۲۵م کال، خصوصي ګڼه ۹۴ يمه، پرله پسې ګڼه ۷۵۷ مه، اتمه دوره

د عالیقدر امیرالمؤمنین (حفظه الله) د حکم پر اساس نوې ټاکنې

د افغانستان د اسلامي امارت مرستیال ویاند د عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله تعالی د حکم پر بنسټ په یو شمېر امارتي ادارو کې د تازه ټاکنو خبر ورکړی دی. سرچینې په یوه خبرپاڼه کې څرګنده کړې، چې د عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله تعالی د حکم پر اساس لاندې ټاکنې وشوې:

۱ـ د لوګر ولایت پخوانی والي مولوي ضیاء الرحمن مدني د ارشاد، حج او اوقافو وزارت د مسلکي معین په توګه.

۲ـ د سرحدونو، قومونو او قبائلو چارو وزارت د کوچیانو د سمون چارو مخکښنی عمومي رئیس، مولوي ګل زرین، د کور او ښار جوړولو وزارت د مسکن، ساختماني چارو او زونونو د پراختیا د معین په توګه.

۳ـ د چارو اداري لوی ریاست مخکښنی مالي او اداري مرستیال مولوي محمود شاه زاهد، د امارتي شرکتونو د عمومي ریاست د پالیسۍ، څارنې او ارزونې د مرستیال په توګه.

۴ـ د کندهار ولایت د حکمونو او فرمانونو د تعقیب او نظارت ریاست مخکښنی مرستیال مولوي سیدحسن شاه آغا، د چارو اداري د لوی ریاست د مالي

... ۳مخ

ازبکستان د اسلامي امارت رئیس‌الوزراء ته د تاشکند د سفر بلنه ورکړه

د افغانستان د اسلامي امارت رئیس الوزراء ښاغلي ملا محمد حسن اخوند ورمه ورځ د ازبیکستان د بهرنیو چارو له وزیر بختیار سعیدوف او مل پلاوي سره وکتل.

په دې لیدنه کې چې د بهرنیو چارو وزیر مولوي أمیرخان متقي هم شتون درلود، د افغانستان اسلامي امارت رئیس‌الوزراء یاد پلاوي ته د ښه راغلاست ترڅنګ د افغانستان او ازبیکستان اړیکې تاریخي وبللې. د ازبیکستان د بهرنیو چارو وزیر بختیار سعیدوف، د جمهور رئیس ښاغلي شوکت میرضیایوف سلامونه او نېکې هیلې رئیس‌الوزراء

... ۳مخ

تفاهمنامه مطالعات امکان‌سنجی پروژه «افغان ترانس» امضاء شد

تفاهمنامه انجام مطالعات امکان‌سنجی پروژه خط آهن ستراتېژیک «افغان-ترانس» روز گذشته میان وزارت فواید عامه کشور، وزارت ترانسپورت اوزبیکستان و وزارت خط راه‌آهن پاکستان به امضا رسید.

وزارت فواید عامه اعلام کرده که این خط آهن به طول حدود ۶۸۱ کیلومتر با عبور از خاک افغانستان، کشورهای آسیای میانه را به بازارهای کشورهای جنوب آسیا وصل کرده و یک مسیر جدید و کوتاه تجاری را میان شمال و جنوب آسیا فراهم می‌سازد. به گفته این وزارت، با عملی‌سازی این پروژه، افغانستان به یک چهارراه مهم ترانزیتی در منطقه تبدیل خواهد شد، به‌گونه‌ای که سالانه میلیون‌ها

دالر درآمد ترانزیتی برای کشور ایجاد شده و هزاران فرصت شغلی مستقیم و غیرمستقیم فراهم خواهد شد. در عین‌حال، کشورهای آسیای میانه به‌ویژه ازبیکستان، از طریق این خط آهن به بندرهای جنوبی آسیا از جمله بندر کراچی و بندر گوادر دسترسی پیدا خواهند کرد. به گفته وزارت فواید عامه، این امر باعث کاهش

... ص۳

له افغانستان سره د سیمه‌ییز اتصال پر پراخېدو د ازبیکستان ټینګار

د افغانستان د کورنیو چارو وزیر خلیفه سراج الدین حقاني د ازبیکستان د بهرنیو چارو له وزیر بختیار سعیدوف، د دې هېواد د ټرانسپورټ وزیر الهام محکموف او ورسره راغلي پلاوي سره کتلي دي.

دې کتنه کې د ازبیکستان د بهرنیو چارو وزیر د ټرانس‌افغان وسپني پټلۍ پروژې اړوند ناستو او د درې‌اړخیزې توافقنامې د لاسلیک جزئیات شریک کړل او د دې سترې سیمه‌ییزې پروژې پر پرمختګ یې خوښي څرګنده کړه.

نوموړي ویلي، چې له اسلامي امارت سره د اړیکو د لا پراختیا ترڅنګ د افغانستان د کنګل شویو شتمنیو د ازادېدو، د افغان کډوالو د ستونزو حل او په نړېوالو ناستو کې د اسلامي امارت د فعال ګډون غوښتونکي دي. بله خوا د افغانستان د کورنیو چارو وزیر د راغلي پلاوي

... ۳مخ

پکتیا کې یو کارېز او کانال جوړېږي

د پکتیا د کرنې ریاست مسئولینو خبر ورکړی، چې د دغه ولایت د زرمت ولسوالۍ په کلالګو سیمه کې د ۹ میلیونو افغانیو په لګښت د یوه کارېز او کانال د جوړولو چارې پیل شوې دي. د مسئولینو په خبره په یاده پروژه کې د ۹ میلیونو افغانیو په لګښت د ۵۷۰ مترو په اوږدوالي د کانال او یوه کارېز جوړول شامل دي. سرچینې ویلي، چې د کانال او کارېز په بشپړېدو سره به د سیمې ۶۰۰ هکتاره کرنیزه ځمکه خړوبه شي. د مسئولینو په خبره دوی به د بزګرانو لپاره داسې نورې اسانتیاوې هم برابرې کړي څو خپل حاصلات په ښه ډول راټول او بازار ته یې وړاندې کړي.

قزاقي شرکتونو په افغانستان کې د سربو او جستو د پروسس کارخونې جوړې کړي

د کانونو او پټرولیم وزارت خبر ورکړی، چې یو شمېر قزاقستاني شرکتونو په هېواد کې له افغانانو سره په ګډه د سربو او جستو د پروسس په برخه کې کارخونې جوړې

کړې دي. یاد وزارت د دغو چارو هرکلی کړی او په دې برخه کې یې هر ډول پانګونو ته د همکارۍ ډاډ ورکړی. د کانونو او پټرولیم وزارت ویاند همایون افغان هم رسنیو ته ویلي، چې په دې وروستیو کې یو شمېر قزاقستاني پانګوالو له افغانانو سره په ګډه د سربو د پروسس فابریکې جوړې کړي. نوموړي زیاته کړې، هغه بهرني پانګوال چې په افغانستان کې د کانونو په برخه کې پانګه اچونه کوي، سرپرست حکومت ورسره لازمه همکاري کوي.

د نغلو لمریزې برښنا پروژه بشپړېدو ته نږدې شوې

د کابل په نغلو سیمه کې د ۲۲.۷۵ میګاواټه لمریزې برښنا د تولید پروژې چارې ۷۰ سلنه بشپړې شوې دي.

د لمریزې برښنا پر دغې پروژه څه باندې ۱۸ میلیونه ډالره لګښت راځي او چارې یې د ترکي او افغاني شرکتونو له لوري پر مخ وړلې کېږي. د قراردادي شرکت استازی عبدالقیوم په دې اړه وایي: «د دې پروژې کار نږدې ۷۰ سلنه بشپړ شوی او له ۲۰۰ ډېر کسان دلته په کار بوخت دي.» د برښنا شرکت یو مسئول وایي، چې د دغې پروژې په بشپړېدو سره به نږدې ۲۳ زره کورنیو ته په کابل، لغمان او ننګرهار ولایتونو کې برښنا برابره شي. د برښنا شرکت د پانګونې د همغږۍ رئیس، فریدالله شرفمل وایي: «موږ کولای شو څلور میاشتې وروسته له دې برښنا ګټه واخلو. دا پروژه به د برښنا د کمښت په حل کې مرسته وکړي، ترڅو د ننګرهار، لغمان او کابل د اوسېدونکو د برښنا ستونزې تر یوه بریده حل شي.» ښاغلي شرفمل د چاپېریال ساتنې په اړه زیاته کړې چې برښنا شرکت پاکې انرژۍ ته لومړیتوب ورکوي

... ۳مخ

فراغت ۵۰۰ تن از مرکز تعلیمی قول‌اردوی ۲۰۳ منصوری

به تعداد ۵۰۰ تن منسوبان جوان پس از گذراندن یک دوره تعلیمی سه ماهه از بخش‌های مختلف نظامی، عقیدتی و مسلکی مرکز تعلیمی قول‌اردوی ۲۰۳ منصوری فارغ شدند. وزارت دفاع ملی می‌گوید: در این مراسم قاری محمد اسماعیل راسخ، قوماندان قول‌اردوی ۲۰۳ منصوری، مولوی نصیب‌الله‌مدنی، قوماندان تعلیمات مشترک محاربوی عبدالله بن معسود رض، مولوی محمد نظامی، معاون قول‌اردوی ۲۰۱ خالدبن ولید رض، علمای کرام و مسئولین اشتراک کرده بودند. مسئولین خطاب به فارغان گفتند:« نظام اسلامی بر مبنای تقوا، علم، ایمان و عدالت استوار است، برای تطبیق، حاکمیت و پایداری نظام اسلامی، وجود یک اردوی اسلامی ملی کاملاً مسلکی

... ص۳

د خوست خلکو د دغه ولایت د پوهنې ریاست سره ۲۴ میلیونه افغانۍ مرسته کړې

د خوست د پوهنې ریاست سره د ۱۴۰۴ ښوونیز کال له پیل راهیسې تر دې مهاله د خوست اوسېدونکو د ۲۴ میلیونه افغانیو مرسته کړې ده. د خوست ولایت له مقام څخه ورمه ورځ په لېږل شوې خبرپاڼه کې د خوست د پوهنې د رئیس مولوي فیض‌الله جمال حقاني له قوله ویل شوي چې د شوراګانو له لارې، د ولایت په کچه د دیني مدارسو او رسمي ښوونځیو

... ۳مخ

بلخ؛ د سانچارکي څلورلارې د بیارغولو چارې بشپړې شوې

د بلخ په مرکز مزار شریف ښار کې د څه باندې ۳ میلیونو افغانیو په لګښت د سانچارکي

څلور لارې د بیارغونې چارې بشپړې شوې دي. د مزار شریف ښاروال حافظ عبدالرحمن همت باختر اطلاعاتي آژانس ته ویلي چې د دغه ولایت په مرکز مزار شریف ښار کې د سانچارکي څلور لارې د بیارغونې چارې د یادې ښاروالۍ له لوري د ۳.۵ میلیونو افغانیو په لګښت بشپړې شوې دي. د نوموړي په وینا، په دغې پروژه کې د فلزي کټارو نصبول، پلیو لارو کې د مرمرو تیږو ایښودل، د اوبو د فوارې جوړول، د څراغونو او تزئیني وسایلو نصبول شامل دي، چې چارې یې د دوو میاشتو په موده کې بشپړې شوې دي. ورته مهال د یاد ولایت اوسېدونکي د یادې څلور لارې د جوړېدو له چاور خوښ دي او وایي، چې په دې سره به د ښار ښکلا څو برابره زیاته شي.

پروان کې یو کلیوالي سړک جوړېږي

د پروان د کلیو د بیارغونې او پراختیا ریاست مسئولینو د دغه ولایت په سالنګ ولسوالۍ کې د څه باندې یو نیم میلیونو افغانیو په لګښت د یوه کلیوالي سړک د جوړولو چارو د پیل کېدو خبر ورکړی دی.

د یاد ولایت د کلیو د بیارغونې او پراختیا رئیس ملا عبدالصمد صادق باختر آژانس ته ویلي چې د سالنګ ولسوالۍ په درندي کلي کې د اکتېډ موسسې په مالي ملاتړ د یو میلیون ۵۳۵ زره ۶۲۵ افغانیو په لګښت د یو کیلو متر په اوږدوالي د یوه کلیوالي سړک د جوړولو چارې پیل شوې دي. نوموړي زیاته کړې، چې په یاده سیمه کې شاوخوا

... ۳مخ

ملت ته حساب ورکول او رښتینی مسئولیت!

د الله تعالی پر ځمکه د الله تعالی پر بنده ګانو حاکمیت، د دوی د چارو سمبالښت او اقتصادي، تعلیمي، روغتیایي او ورته نورو ستونزو ته یې حللارې پیدا کول که څه هم ستره مرتبه او د انسانیت خدمت ګڼل کېږي، خو له بل لوري دغه حاکمیت او د چارو سمبالښت یو مسئولیت هم بلل شوی او په سمه توګه سرته رسول یې له اهلیت او امانت پرته ناشونی کار دی.
د حکومت په هر بست کې کار کوونکی باید د همدغو دوو صفتونو درلودونکی وي او د استخدام پرمهال یې هم باید همدغه دواړه صفتونه په پام کې ونیول شي. اهلیت په دې مانا چې مسئول باید په ټوله معنی د ورسپارل شوې دندې پر سرته رسولو ځواکمن وي او د خپلې دندې په ټولو برخو کې پوهه ولري او امانت په دې معنی چې مسئول باید د ملت له حقونو او شتمنیو سره خیانت ونه کړي او له فساد، درغلۍ او بل هر ډول جرم څخه ځان وساتي.
هغه ملتونه په ډېر لږ وخت کې د پرمختګ، خوشحالۍ او ښه ژوند لوړو پوړونو ته رسېږي، چې د چارو واګې یې د په کار پوهو او امانتدارو چارواکو په لاس کې وي. همدا لامل دی، چې د دندې غوښتلو پر مهال رسول الله صلی الله علیه وسلم مشهور صحابي حضرت ابوذرغفاري رضي الله عنه ته وفرمایل: ((ته کمزوری یې او دا امانت دی)) په امانتدارۍ او دیانت کې ابوذر ډېر ځواکمن و، خو کېدای شي د هغه مسئولیت په برخه کې به یې پوره مهارت نه درلود، ځکه نبي علیه السلام کمزوری و ګاڼه.
له تېرو کابو څلورو کلونو راهیسې اسلامي امارت د افغان ملت د چارو واګې په لاس کې اخیستي او په ډېرو برخو کې ښې لاسته راوړنې لري. که څه هم ځینې نیمګړتیاوې به وي، خو امید دی، چې د وخت په تېرېدلو سره دغه نیمګړتیاوې هم ختمې شي او افغانستان د نړۍ او سیمې له هېوادونو سره په سیاسي، اقتصادي او تعلیمي برخو کې سیال شي.
تېره چهارشنبه د اسلامي امارت وزارتونو ملت ته د حساب ورکولو بهیر پیل کړ، د حساب ورکولو د دغه بهیر یوه مثبته ځانګړتیا دا ده، چې د وزارتونو او نورو حکومتي ادارو مسئولین د رسنیو له لارې یوازې خپلې مثبتې کړنې او بریالیتوبونه له ملت سره نه شریکوي، بلکې هغه موارد هم شریکوي، چې د دوی وزارت یا اداره یې په ترسره کولو کې پاتې راغلې او یا یې په ترسره کولو کې له ستونزو سره مخ ده. د حکومت له لوري ملت ته د حساب ورکولو پروسه له فساد سره د مبارزې، شفافیت او په دولتي ادارو کې د ستونزو او نیمګړتیاوو د تشخیص په برخو کې ډېر مثبت رول لري.
ملت ته حساب ورکول د ښې حکومتولۍ اصل دی. اسلامي امارت باید په دې برخه کې لا ډېر کار وکړي. په کلني ډول د حساب ورکولو له پروسې سره سره د حکومتي چارواکو د شتمنیو تثبیت او څار ته هم باید ځانګړې پاملرنه وشي. په دغسې مثبتو کړنو سره نه یوازې د اداري فساد مخه نیول کېدای شي، بلکې پر حکومت د خلکو باور او اعتماد هم زیاتېږي او د ملت او حکومت ترمنځ پیوندونه رامنځته کېږي.
دغه پروګرام جوتوي، چې اسلامي امارت په ټوله معنی یو مسئول حکومت دی، بیت المال د ملت شتمني ګڼي، بیت المال ته راغلي عواید او بیا یې لګښت او د لګښت ځایونه له ملت سره شریکوي او بل دا چې اسلامي امارت د خلکو روا غوښتنې او مشورې اوري او د پوښتنې او انتقاد حق ورکوي.
لنډه داچې د اسلامي امارت له لوري ملت ته د حساب ورکولو بهیر ډېر مثبت ګام دی او ان شاءالله تعالی ډېرې ښې اغېزې به ولري. دا او دې ته ورته نور داسې کارونه چې ملت او حکومت سره نږدې کوي او پر حکومت د ملت باور زیاتوي، باید ډېر شي او د ډېروالي تر څنګ یې باید د دقت برخې ته هم لا ډېره پاملرنه وشي.

د وسپنې پټلۍ پراختیا د اسلامي امارت د عملي ګامونو روښانه نښه ده

محمد عظیم

افغانستان، چې د ستراتېژيک جغرافیوي موقعیت، بډايو طبیعي زیرمو او ځوان بشري ځواک لرونکی هېواد دی، اوس د خپل اقتصادي برخلیک د بدلولو پر لور په نوې، پیاوړې او مثبتې لارې روان دی. د اسلامي امارت تر واکمنۍ لاندې، هېواد د بنسټیزو پروژو په تطبیق د ټرانزیټي لارو د پرانیستلو او د اقتصادي خپلواکۍ د تامین په برخه کې د پام وړ پرمختګونه تجربه کوي، چې له امله یې د خلکو هیله او باور هم تازه شوی دی.
په همدې لړ کې د وسپنې پټلۍ له لارې د وارداتو او صادراتو د بهیر پراخېدل، یو له هغو مهمو بدلونونو څخه دی، چې د افغانستان اقتصادي بڼه یې بدایه کړې. د چنګاښ میاشتې له ۱۳مې تر ۱۹مې نېټې پورې د ټولګټو وزارت د معلوماتو له مخې، څه باندې ۷۷ زره متریک ټنه توکي د وسپنې پټلۍ له لارې انتقال شوي دي. دا یوه روښانه نښه ده چې افغانستان له انزوا څخه د سیمه‌ییزو اقتصادونو د ګډو بازارونو پر لور پرمختګ کوي.
د وسپنې پټلۍ نه یوازې د سوداګرۍ د بهیر چټکتیا تضمینوي، بلکې د لېږد رالېږد لګښتونه راکموي، د وخت سپما کوي او د هېواد صادراتو ته بهرنیو بازارونو ته د رسېدو آسانتیاوې برابروي. دغه پرمختګ د ملي عوایدو د لوړوالي، د کاري فرصتونو د زیاتوالي او د تولیدي سکتور د فعالېدو لپاره حیاتي ارزښت لري. د رېل پټلۍ له لارې د توکو انتقال د افغانستان لپاره یوازې یو تخنیکي خدمت نه دی؛ بلکې دا د یوه متحول اقتصادي سیستم بنسټ ګڼل کېږي.
د افغانستان جغرافیوي موقعیت دا ځانګړتیا لري چې د منځنۍ آسیا، جنوبي آسیا او ختیځې آسیا ترمنځ د ټرانزیټ ستره دروازه شي. که دا موقعیت په سمه توګه مدیریت شي، افغانستان نه یوازې دا چې د خپلو صادراتو لپاره نوي بازارونه مومي، بلکې د ټرانزیټي عوایدو له لارې خپل اقتصادي استقلال هم تضمینوي. اوس مهال، هېواد د وچې مېوې، د مېوې جوسونو، لاسي صنایعو، معدني موادو او نورو محلي تولیداتو د صادراتو له لارې نړیوالو بازارونو ته د رسېدو لپاره چمتو شوی.
د وسپنې پټلۍ د پراخېدو دا بهیر د اسلامي امارت د ژمنو او عملي ګامونو یوه بله روښانه نښه ده. د ټولګټو وزارت نه یوازې دا چې د موجودو پټلیو ظرفیتونه پراخوي، بلکې د نویو لارو جوړولو ته هم ژمن دی. د بندرونو ترمنځ د ارتباطاتو پیاوړتیا، د بار د انتقال چټکوالی او شفافیت، د ټول اقتصادي سیستم د معیاري کېدو لامل کېږي.
د وسپنې پټلۍ له لارې د توکو انتقال، یوازې د سوداګرۍ مسئله نه ده، بلکې دا یوه اوږدمهاله اقتصادي پانګونه ده، چې د وخت په تېرېدو سره به لا زیاتې ګټې وښيي. هر څومره چې د صادراتو او وارداتو کچه لوړېږي، په هماغې کچه به د هېواد اقتصاد پیاوړی کېږي، پانګوال به تشویقېږي او د خلکو ژوند ته به مثبت بدلون راځي.
مطالعې ښيي چې دا پرمختګونه، نه یوازې د سوداګرۍ د پراخېدو سبب کېږي، بلکې د کارګر ځواک لپاره هم نوي فرصتونه رامنځته کوي. د هېواد د بې‌روزګاره قشر لپاره دا یو نوی امید دی او د فقر د کمولو لپاره یو عملي ګام بلل کېږي. د دې لپاره چې دغه بهیر دوامدار او باثباته پاتې شي، لازمه ده چې له ګاونډیو هېوادونو سره ستراتېژیکې همکارۍ لا پیاوړې شي، د پټلیو مسیرونه متنوع شي او د ټرانزیټ لپاره عصري مدیریت رامنځته شي.
په پای کې باید ووېل شي چې د وسپنې پټلۍ له لارې د توکو د لېږد روان بهیر، د افغانستان لپاره د اقتصادي تحول یو مهم پیل دی. راځئ چې دا فرصت ضایع نه کړو، د پانګوالو ملاتړ وکړو، د حکومت پلانونه تعقیب کړو، او د ځان‌بسیاینې او اقتصادي خپلواکۍ دا لاره لا نوره هم پراخه کړو. دا بهیر د افغانستان ملت ته دا پیغام لري چې هېواد د اقتصادي انکشاف، پرمختګ او د یوه باعزته راتلونکي پر لور په ثابتو ګامونو روان دی.
د وسپنې پټلۍ له لارې د وارداتو او صادراتو بهیر یوازې د سوداګرۍ پرمختګ نه دی، بلکې دا د ټول هېواد اقتصادي تصویر ته نوی رنګ ورکوي. دا بهیر د تولید، ټرانزیټ، پانګونې، عوایدو او کاري فرصتونو یو نوی باب پرانیزي، چې د ملت د فقر د کمېدو، د اقتصادي استقلال د ترلاسه کولو او له نړیوال بازار سره د افغانستان د نښلېدو لپاره ستره دروازه ده. د اسلامي امارت د پیاوړو ګامونو له امله، افغانستان د متحرک اقتصاد پر لور روان دی او دا پرمختګ باید همداسې پرله‌پسې، باثباته او دوامدار وساتل شي.

افغانستان د مالګې د تولید په برخه کې ځان بسیاینې ته رسېدلی دی

حبیب الرحمن رحیمي

مالګه چې د سودیمو او کلورینو له ترکیب څخه جوړه شوې ده، د انساني خوړو لپاره یوه مهمه اړتیا ده او هر انسان په کال کې له یو کیلو ګرام څخه زیاتې مالګې ته اړتیا لري. همدا مالګه ده چې په بدن کې د پوستکي، عضلاتو، د وینې ټیټ فشار او نورو کې بارز رول لري .
د ریاست الوزراء د اقتصادي مرستیالۍ په حواله اوس په هېواد کې په کال کې ۳٤٤ زره ټنه مالګه تولیدېږي چې شته اړتیا په انساني او حیواني دواړو برخو کې لري کوي. د همدې اړتیا له مخې لیدل کېږي چې مالګه باید له بهر څخه راوړل شي.
دا په داسې حال کې چې د افغانستان د اړتیا وړ مالګې کچه په کال کې ۳۰۰ زره ټنه ښودل شوې ده چې ۱۶۰ زره ټنه یې د انساني اړتیا او پاتې یې د حیواني ضرورت کچه ده .
په افغانستان کې اوس مهال د مالګې ۵۳ تولیدي کارخونې د مالګې د تولید په برخه کې کار کوي چې په کور دننه هر راز اړتیا پوره کوي او موږ اړ نه یو چې مالګه له بهر څخه راوړو .
د یادونې وړ ده چې زموږ ښکلی هېواد افغانستان له هر راز کاني زېرمو ډک دی چې یو هم مالګه ده او کانونه یې په تخار، سمنګانو، بلخ، فاریاب، غور، هرات، پروان، غزني پکتیا او قندهار ولایتونو کې دي .
دا چې د هېواد په لوېدیځ کې یو شمېر جهیلونه هم د مالګې د استحصال له لویو سرچینو څخه شمېرل کېږي، نو باید پرې پانګونه وشي. همدارنګه د دې ترڅنګ چې یاد جهیلونه د مالګې سرچینې دي، له پانګوالو څخه دې هم وغوښتل شي چې یادې آبي منابع د ګرځندوی لپاره اماده کړي او ټولې هغه آسانتیاوې چې سیلانیان ورته اړتیا لري چمتو کړي.

ساز و برگ جدید حماس برای حماسه‌های جدید

روان

رسانه‌های متعدد جمعی از جذب ۲۰۰ هزار سرباز تازه دم به جبهات جنگی حماس علیه رژیم صهیونیستی در غزه خبر دادند. قابل یاد اوریست که نخست وزیر اسرائیل ۲ سال قبل، شکست کامل نیروهای حماس و استرداد اسیران صهیونستی توسط زور از جنبش حماس و پیروزی نهایی نیروهای صهیونیستی در غزه را وعده داده بود ، ولی حالا نه تنها اینکه به بن‌بست نظامی روبرو شده اند ،بلکه به جنایات جنگی نیز متهم شده و در مقابل انها، حماس طور فعال می‌جنگد و با گذشت هر روز قویتر شده می‌رود.
جنگ و تنش‌های شرق میانه و از جمله جنگ حماس علیه رژیم صهیونیستی با گذشت هر روز وارد تعاملات و تحولات جدید گشته و ساز و برگ جدیدی را به خود می‌گیرد و خیلی از پیش بینی‌ها و ارزیابی‌های سطحی و غیرعلمی و غیر واقعی در مورد اطراف این حوادث را برعکس آن ثابت می‌سازد .
هجوم و تجاوز آشکار عساکر رژیم صهیونیستی بر غزه و راه‌اندازی کمپاین‌های تبلیغاتی رسانه‌ها علیه نیروهای حماس و اجرای پروسه قتل عام مردم غزه که اینک به ۶۰ هزار تن قریب می‌شود و با انواع جنایات جنگی پیش می‌رود و رژیم صهیونیستی انتظار داشت که به انجام چنین جنایات ضد بشری خواهد توانست که مردم عام غزه را علیه نیروهای حماس بشورانند و از دو طرف با آنان ضربه بزنند ، اما دیدیم که صهیونستها در این کار با شکست کامل مواجه شدند و دو درصد پیروزی هم نداشتند و صرف یک روز چند نفر زر خرید و اجوره کار، مظاهره ۱۰۰ نفری و خیلی مسخره را در یک گوشه زیر پوشش امنیتی عساکر صهیونستی راه اندازی کرده بودند که با مخالفت شدید مردم مواجه شده و هرچه زودتر ساحه را ترک کردند و دیگر خبری از آنها شنیده نشد و شاید که به تل ابیب انتقال داده شده باشند،تا از عکس العمل مردم مصون بمانند .
به همین ترتیب گاهگاهی محمود عباس بیچاره هم گپ‌های پراگنده و پریشان می‌گوید و به صراحت دانسته می‌شود که اصلاً گپ‌های خودش نیست ،بلکه از شارت نوت‌های چاپ تل ابیب ترجمه شده و او صرف آن را به بسیار احتیاط از روی ورق می‌خواند، طوری که گاهی می‌گوید حماس ملامت و آغازگر جنگ و قاتل مردم غزه است و گاهی می‌گوید که حماس باید تمام سلاح‌های خود را تسلیم تشکیلات خودگردان بکند و گاهی هم شبیه این چرندیات، که هر دیوانه هم می‌فهمد که این چنین گپ‌ها از کجا دیکته می‌شود.
اما خود این جناب برابر یک دانش آموز صنف چهارم مکتب هم عقل ندارد که در کتاب تاریخ خود خوانده باشد که مردم فلسطین و حماس گونه‌ها ، اصلاً در برابر نیروی اشغالی می‌جنگند که قبل از سال ۱۹۴۸ میلادی در فلسطین ۱۰ فیصد نفوس و ۱۰ فیصد اراضی هم نداشت و در یک توافق پنهانی و بعداً علنی بر سر تقسیم جغرافیای عرب که به نام پیمان (سایکس بیکو) مشهور شد ، به میان آمد و بیت المقدس را ساحه بین المللی اعلام داشتند و بعد از آن یکی پی دیگر با جابجایی یهودیان تندرو ...ص۳

افغان اعلانات

اطلاعیه دعوت به داوطلبی

ریاست پوهنتون علوم طبی یک باب کانتین شفاخانه تدریسی میوند خویش را به شکل آفر سر بسته به اعلان داوطلبی مزایده میسپارد.

اشخاص حقیقی و حکمی که خواهان اشتراک در پروسه داوطلبی می باشد میتواند بعد از تاریخ نشر اعلان الی مدت ۲۱ روز تقویمی درخواست های خویش را عنوانی ریاست پوهنتون علوم طبی کابل به آمریت خدمات پوهنتون تسلیم نموده و شرطنامه را با پرداخت مبلغ ۲۰۰۰ افغانی پول بدون بازگشت بدست آورند.

جلسه داوطلبی به روز بیست و دوم ساعت ۱۰ بجه قبل از ظهر در دفتر معاونیت محترم مالی و اداری دایر میگردد.۵۴۸

اطلاعیه دعوت به داوطلبی

ریاست اجرائیوی شرکت امارتی نساجی افغان، از تمام داوطلبان واجد شرایط دعوت می نماید، تا در پروسه داوطلبی (ترمیم و کرایه یک باب تعمیر یک منزله دارای (۲۵) باب اطاق واقع ولسوالی حصه اول کوهستان ولایت کاپیسا) اشتراک نموده، یک نقل شرطنامه مربوطه را طور سافت در بدل مبلغ (۱۰۰۰) یک هزار افغانی پول بدون بازگشت از تاریخ نشر اعلان الی مدت ۲۵ یوم به مدیریت عمومی املاک نساجی افغان واقع چوک پوهنتون تعلیم و تربیه، سرک عمومی خوشحال خان، ساحه الف کوچه حسن عسکری خانه نمر ۲۹ و ریاست محترم دستگاه نساجی افغان گلبهار بدست بیاورند.

تضمین آفر بصورت پول نقد حاوی مبلغ (۳۰۰۰۰) سی هزار افغانی بوده و جلسه داوطلبی آن بشکل آفر سر بسته به روز بیست و ششم ساعت ۱۱ یازده بجه قبل از ظهر در مقر این ریاست تدویر میگردد.۵۵۰

اطلاعیه به کرایه دهی

شرکت امارتی ارزاق در نظر دارد به تعداد (۱۶) باب گدام و ساحه اطراف آن واقع دهمزنگ عقب ریاست ترافیک ملکیت خویش را به کرایه ماهوار مبلغ (۱۲۰۰۰) افغانی به کرایه بدهد.

اشخاص و شرکت های واجد شرایط که به جایداد فوق ضرورت داشته و کرایه بیشتر بپردازند درخواست های خویش را الی مدت ۲۱ یوم از نشر اعلان به آمریت املاک ،شرکت امارتی ارزاق واقع جوار سیلوی مرکز سپرده خود شان به روز داوطلبی (مزایده) حاضر شوند. شرطنامه مرتبه را در بدل قیمت معین بدون بازگشت بدست آورده می توانند تضمین نقدا اخذ میگردد.۵۴۹

اطلاعیه مفقودی

یک قطعه حصرووراثت خط شرعی نمبر ۱۳۰۴/۲۰ مورخ ۱۳۶۹/۱۰/۴ مرتبه محکمه ناحیه دهم به اسم عبدالصبور فرزند محمد ابراهیم ولدیت محمد صفدر مفقد گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۲۱۱۹

اطلاعیه مفقودی

ترجمه انگلیسی تولد کارت به اسم روح الدین فرزند حبیب الله مفقود گردیده از اعتبار ساقط میباشد. ۵۴۴

اطلاعیه مفقودی

ترجمه انگلیسی تذکره تابعیت به اسم یارگل فرزند زرگل مفقود گردیده از اعتبار ساقط میباشد. ۵۴۴

اطلاعیه مفقودی

یک جواز کار اتباع خارجی تبعه کشور زیمباوی به اسم هستون مالیمالی مفقود گردیده از اعتبار ساقط میباشد. ۵۵۱

اطلاعیه مفقودی

ترجمه انگلیسی تولد کارت به اسم محبوبه بنت سید خلیل مفقود گردیده از اعتبار ساقط میباشد. ۵۴۲

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم عبیدالله شریفی فرزند محمد شفیق مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۲۳۰۴

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم نرگس رضایی بنت موسی جان مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۲۲۹۹

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم حامد حنیفی فرزند ضیاالله مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۲۲۹۸

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم اقبال جمال نیازی فرزند بخت جمال مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۲۲۹۷

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم عید محمد یعقوبی فرزند الله محمد مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۲۲۹۶

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم بشیراحمد احمدی فرزند زرشی گل مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۲۲۹۱

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم محمد الدین فرزند عبدالسلام مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۲۲۹۵

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم نثارعلی مهریار فرزند غلام علی مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۲۲۹۳

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم تراب مظفری فرزند عوض مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۲۲۹۴

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم احمد جاوید شیرزاد فرزند حیات الله مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۲۲۹۲

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم محمد ابراهیم فرزند غلام رسول مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۳۰۲۳

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم علیاور محمدی فرزند ششی مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۳۰۲۲

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم لیاقت علی عارفی فرزند محمد جان مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۲۹۱۴

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم غلام محمد عمر فرزند غلام سرور مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۲۹۱۳

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم محمد نعیم اسحاقی فرزند محمد عمر مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۲۹۱۳

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم عبدالحمید قاسمی فرزند محمد قاسم مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۲۹۱۲

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم سرور صفری فرزند عبداللطیف مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۲۹۱۰

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم عبدالوهاب بره کی فرزند محمد تواب مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۲۹۰۹

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم سلیمان محمدی فرزند احمد ضیا مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۲۹۰۶

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم بادار بهبودی فرزند علی محمد مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۲۹۰۵

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم روح الله رفعت فرزند محمد حیدر مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۲۹۰۷

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم عزیز الله قریشی فرزند محمد سالم مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۳۲۳۸

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم ولید لیوال فرزند عبدالکریم مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۲۳۰۰

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم عبدالله ریس خیل فرزند بریالی مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۲۳۰۳

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم محمد نادر حیدری فرزند محمد اعظم مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۲۹۲۷

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم تسل موmند بنت علام حسین مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۲۹۲۶

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم عبید الله مرادی فرزند پیغمبرقل مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۲۹۲۵

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم سیمه عمری بنت عبدالسلام مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۳۲۴۵

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم زینورد صافی فرزند رسول محمد مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۳۲۴۴

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم گل محمد رحمانی فرزند عبدالنظر مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۲۹۲۰

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم دوست افگار فرزند پی گل مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۲۹۱۹

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم حزب الله فرزند نعمت الله مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۲۹۱۸

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم زاهد الله زاهد فرزند عیسی خان مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۲۹۱۱

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم رحمت الله صافی فرزند عبدالستار مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۲۹۱۷

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم علی یاور هاشمی فرزند علی محمد مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۲۹۱۶

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم امیر گل احمدی فرزند حاجی شرین مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۲۹۱۵

دعالیقدر امیرالمؤمنین (حفظه الله) ...

او اداري مرستیال په توګه.

۵ـ د زابل ولایت مخکېنی امنیه قوماندان، قاري صلاح الدین ایوبي، د لوګر ولایت د والي په توګه.

۶ـ د کورنیو چارو وزارت مخکېنی مشاور مولوي قدرت الله امیني، د کابل ولایت د والي د مرستیال په توګه.

۷ـ د خوست ولایت د ګربزو ولسوالۍ مخکېنی ولسوال مولوي عبدالحلیم حلیمي، د زابل ولایت د امنیه قوماندان په توګه.

۸ ـ د کابل ولایت مخکینی مرستیال، ملا محمد یونس مخلص، د کورنیو چارو وزارت د مشاور په توګه.

۹ـ او د ارزګان ولایت د استخباراتو مخکېنی رئیس مولوي جمال الدین وهاج، د بغلان ولایت د امنیه قومندانۍ د امنیت د آمر په توګه وټاکل شو.

ازبیکستان د اسلامي امارت ...

او افغان ملت ته وړاندې کړې. نوموړي وویل: نن د افغانستان او ازبیکستان لپاره یوه تاریخي ورځ ده، د افغانستان او ازبیکستان ترمنځ سیاسي مشورتي لیدنه وشوه او د ټرانس ـ افغان رېل پټلۍ د امکان سنجۍ درې اړخیز تفاهملیک هم لاسلیک شو.

د ازبیکستان د بهرنیو چارو وزیر په افغانستان کې د سیاسي ثبات، اقتصادي پرمختګ او د خلکو د ژوند د ښه والي لپاره دوامدارې هڅې مهمې لاسته راوړنې وبللې او ویې ویل: دا ښیې چې افغانستان د پرمختګ پر یو ښه مسیر روان دی. نوموړي د سیمې او نړۍ له اکثریت هېوادونو سره د افغانستان د اسلامي امارت ښه تعامل ته په اشارې زیاته کړه: ازبیکستان په نړیواله سطحه د افغانستان د حکومت او خلکو حمایت کړی او ورته به دوام ورکړي.

ښاغلي سعیدوف د محمد بن اسماعیل امام البخاري (رح) زیارت د بیارغاونې لپاره د ځانګړې پاملرنې له امله د اسلامي امارت له رهبرۍ څخه مننه وکړه او زیاته یې کړه: دا نه یوازې د ازبیکستان او افغانستان، بلکې د ټولې اسلامي نړۍ لپاره د ویاړ ځای دی. نوموړي وویل: تر اوسه د ازبیکستان او د افغانستان د اسلامي امارت ترمنځ له سلو څخه زیاتو پلاوېو تګ راتګ کړی دی او دا د دواړو هېوادونو ترمنځ پیاوړې اړیکې ښيي، هیله ده په راتلونکي کې هم دوام وکړي. ښاغلي سعیدوف د افغانستان د اسلامي امارت رئیس‌الوزراء ملا محمد حسن اخوند ته ازبیکستان هېواد ته د رسمي سفر بلنه هم ورکړه. ورپسې ملا محمد حسن اخوند د تاریخ په اوږدو کې د افغانستان او ازبیکستان ترمنځ د نیکو او ښو اړیکو یادونه وکړه او هیله یې وښووده چې دغه اړیکې په راتلونکي کې نورې هم پیاوړې شي. رئیس‌الوزراء وویل: ازبیکستان یو له هغو هېوادونو څخه دی، چې تر اوسه پورې له افغانستان سره ښه همکار پاتې شوی دی او موږ د اقتصادي مشترکاتو ترڅنګ نور معنوي مشترکات هم لرو. نوموړي له ازبیکستان سره نېکو او پیاوړو اړیکو ته په اشارې زیاته کړه: ازبیکستان پوهېدلی چې ستونزې په تګ راتګ او تفاهم حل کېږي او له همدې امله یې له اسلامي امارت سره نېک تعامل غوره کړی دی. د افغانستان اسلامي امارت رئیس‌الوزراء د ازبیکستان د بهرنیو چارو د وزیر له لارې د ازبیکستان جمهوررئیس شوکت میرضیایوف ته خپلې نېکې هیلې او سلامونه وړاندې کړل او ویې ویل: الله تعالی دې د دواړو هېوادونو ترمنځ دا ورورولي او همکاري دوامداره او پیاوړې ولري.

تفاهمنامه مطالعات ...

هزینه‌ها و زمان انتقال کالاها شده و به افزایش حجم تجارت منطقه‌ای می‌انجامد.

وزارت فواید عامه افزوده که پروژه «افغان-ترانس» بخشی از چشم‌انداز اقتصادی افغانستان بوده و یکی از برنامه‌های کلیدی امارت اسلامی برای تبدیل‌شدن کشور به نقطه وصل تمدن‌ها و مسیر همکاری‌های اقتصادی پایدار در منطقه به‌شمار می‌رود. قابل ذکر است، پروژه افغان ترانس به عنوان یک پُل اقتصادی ستراتیژیک میان شمال و جنوب آسیا، می‌تواند افغانستان را از کشور محاط به خشکه به یک شاهراه ترانزیتی تبدیل کند. این طرح نه‌تنها در راستای رفاه داخلی کشور مفید است، بلکه نقش افغانستان را در معادلات اقتصادی منطقه نیز برجسته‌تر خواهد ساخت.

له افغانستان سره د سیمه ییز ...

تود هرکلی کړی او د ازبیکستان د نېک نېت، رغنده همکارۍ او له افغان ملت سره د ورورۍ له روحیې یې مننه کړې.

نوموړي دې کتنه کې د ټرانس‌افغان رېل‌پټلۍ پروژې پرمختګ وستایه او هیله یې وښووده چې دا پروژه به د یادو هېوادونو د اقتصادي ودې لپاره یو مهم پرمختګ وي.

هقاني دا هم ویلي، چې افغانستان غواړي له ازبیکستان سره په سیاسي، اقتصادي او فرهنګي برخو کې خپلې اړیکې لا پیاوړې کړي.د یادونې وړ ده، چې وړمه ورځ کابل کې د افغانستان، ازبیکستان او پاکستان د بهرنیو چارو د وزیرانو په شتون کې د ټرانس افغان وسپنې پټلۍ د شونتیا د څېړنې توافقنامه لاسلیک شوه.

د خوست خلکو د دغه ...

د پیاوړتیا او د اړتیاوو پوره کولو په موخه، د خوست مېشتو لهخوا ۲۴ میلیونه افغانۍ مرسته شوې. فیض‌الله جمال حقاني دغه ولسي

همکاري د خوست د خلکو له علم سره مینه یاده کړه او د ښوونځیو او مدارسو د پیاوړتیا په برخه کې یې خپل مسئولیت ادا کړي. د یادونې وړ ده چې د خوست اوسېدونکو له دې وړاندې هم د مرکز او ولسوالیو په کچه د ښوونیزو بنسټونو ملاتړ ته ورته مرستې ترسره کړې وې او د ګڼ شمېر ښوونځیو او دیني مدارسو اساسي اړتیاوې یې پوره کړې وې.

فراغت ۵۰۰ تن از ...

با روحیه اسلامی و ایمانی، مهم و ضروری است.» به گفته مسئولان:« از بیت‌المال حفاظت کرده با هموطنان خود به خوبی رفتار کنید و علم کسب شده خود را به سایر منسوبان نیز تعلیم دهید.» در پایان از سوی منسوبان فارغ شده نمایش‌های عملی و نظری ارائه شد و مراسم با اهدای تصدیق‌نامه‌ها به فارغان خاتمه یافت.

د نغلو لمریزې برښنا ...

ده و ویل: ((برښنا شرکت نوې کېدونکې انرژۍ ته لومړیتوب ورکړی او په همدې موخه مو له خصوصي سکتور سره د لمریزې برښنا د پروژو قراردادونه کړي دي» قراردادي شرکت وايي: د دې پروژې ټول تخنیکي کارونه د افغان انجنیرانو او کارکوونکو لهخوا ترسره کېږي او دا مهال یکې ۲۰۰ کسان په کار بوخت دي. که څه هم اسلامي امارت له کورنیو سرچینو د انرژۍ د تولید هڅې کوي ،خو افغانستان لا هم د خپلې اړتیا ډېره برښنا له تاجیکستان، ازبیکستان، ترکمنستان او ایرانه پېري.

کرېکټ ۱۲۸ کاله ...

مالي بازارونه او د پاکستان او هند په څېر هېوادونو څخه د لوبې مینه‌وال ورجلب کړي. د ۲۰۲۸ المپیک سیالیو کوربه د امریکا لاس‌انجلس ښار دی. د نړیوالي اولمپیک کمیټې اجرائیوي بورډ د روان کال د مارچ ۹مه د لاس انجلس د شل اوریزو کرېکټ، بیسبال، سافټبال، سکواش، بیرغ فوټبال او لاکروس لپاره د تنظیم کوونکو وړاندیز ومانه.

د ټرانس ـ افغان ...

چې دا پروژه یوازې ټرانزیټي مسیر نه دی، بلکې د ستراتیژیک اتصال په لوري لومړني ګامونه دي. مولوي امیرخان متقي همداراز اعتماد او خپلمنځي باور د دوی د اړیکو اساس بللی او په وینا یې افغانستان د سیمې د وصل نقطه ده، چې باید په همدې محور تعریف شي. د ویلو وړ ده چې د پاکستان او ازبیکستان د بهرنیو چارو وزیرانو او مل لوړپوړو پلاویو کابل ته د سفر پرمهال د اسلامي امارت د رئیس‌الوزراء په ګډون له یو شمېر چارواکو سره هم کتلي دي.

پکتیکا کې ښوونځیو ته ...

زیاته شوې چې د دې ولایت په مرکز او ۲۴ ولسوالیو کې به ۶۴۱۸۲ درسي کتابونه هم ښوونځیو ته ووېشل شي چې شاوخوا ۷ میلیونه افغانی لګښت پرې کېږي.په یاد شمېر درسي کتابونو کې ۵۲۷۴ د کلیوالي مدرسو درسي کتابونه، ۲۸۰۷۰د عمومي برنامې تر څلورم ټولګي پورې کتابونه او ۷۸۰۰ د متوسطه دورې لپاره د ښوونکو لارښود کتابونه شامل دي او همداشان د یو همکار بنسټ له لوري هم ۱۹۳۳۸ له لومړي تر دریم ټولګي او د زده‌کوونکو لپاره ۳۷۰۰ د کېسو کتابونه ویشل کېږي.

جوزجان کې ...

د نوموړي په وینا، یاده پېښه د موټر چلوونکي د بې احتیاطۍ له امله رامنځته شوې ده. د پېښې ټپیان د یاد ولایت حوزوي روغتون ته لېږدول شوي او روغتیایي حالت یې د ډاډ وړ ښودل شوی.

ترکیې له اسرائیلو سره ...

سوداګریزې اړیکې پرې کړې دي او خپل سفیر یې هم له تل‌ابیبه ور غوښتی دی. د ترکیې د بهرنیو چارو وزیر ټینګار کړی چې د اسرائیلو له بریدونو وروسته، د سوریې لپاره د امریکا له ځانګړي استازي او په انقره کې د امریکا له سفیر سره یې تماس نیولی دی. ترکي چارواکو په ډاګه کړې، چې دوی نه‌غواړي په سوریه کې جګړه پېښه شي.

پکتیکا کې یو جومات ...

او دارالعلومونو د پیاوړتیا لپاره هر اړخیز ملاتړ کوي. په ورته وخت کې د سرروضې د پوهنې آمر مولوي حبیب الرحمن مصباح هم د یاد جومات د جوړېدو چارې وستایلې او دا یې د سیمې د خلکو او زده کوونکو لپاره مهمه اړتیا بللې.

دغه راز د مارزک دارالعلوم یوه مشر ویلي: نوی جومات به یوازې د لمانځه لپاره نه؛ بلکې د دیني چارو او اسلامي احکامو د تطبیق لپاره هم وکارول شي.

۲۲۴۳ کورنۍ له ایران او ...

مرسته شوې ده. د کډوالو ستونزو ته د رسېدنې عالي کمېسیون په خبرپاڼه کې راغلي، چې د چنګاښ میاشتې په ۲۵مه نېټه له ایران څخه د نیمروز ولایت د ورېښمو له لارې ۱۰۱۴ کورنۍ، چې د غړو شمېر یې ۴ زره ۸۳۴ تنه و، هېواد ته راستنې او ثبت شوې دي او هلته له ۸۹۹کورنیو سره ۷ میلیونه ۵۲ زره افغانۍ مرسته هم شوې ده.

له دغې لارې څخه ۱۶۶۶ مسافر هم خپل هېواد ته راستانه شوي دي. په خبرپاڼه کې راغلي، چې په یاده نېټه د هرات ولایت د اسلام کلا له لارې ۲۲۴۳ کورنۍ، چې د غړو شمېر یې ۱۵ زره ۲۰۸ تنه وو، هېواد ته راستنې او ثبت شوې دي او هلته له ۲۴۵۵ کورنیو سره ۲۰ میلیونه ۱۴ زره افغانۍ مرسته شوې ده. د یادونې وړ ده، چې راستنو شویو کورنیو ته د دغه کمېسیون د اطلاعاتو او عامه پوهاوي هیئت له لوري د دوی د ثبت، لېږد، مالي مرستو، لنډ مهالې مېشتېدنې او همدارنګه د هېواد، اسلامي نظام، مهاجرت، صبر او زغم، ښوونې او روزنې په اړه ګټور پوهاوی ورکړ شوی دی او ټول ټال ورته ۱۲۶۵ سیمکارتونه هم وېشل شوي دي.

ساز و برگ جدید حماس ...

از طریق مهاجرت‌های جبری فرانسه و انگلیس و روسیه و تصرف و اشغال اراضی مسلمانان فلسطین، این پروسه از آغاز مرموز و بعداً هم به شکل خشن و تزریق پول برای خرید زمین‌های مسلمانان و مهاجرت‌های اجباری پیش رفت و حالا گپ از آن ۱۰ فیصد به ۵۷ فیصد رسیده و اینک بر علاوه آن ۵۷ فیصد، اشغال تمام غزه به کمک همان کشورهایی که در تشکیل و تجمع صهیونیست‌ها در سال ۱۹۴۸میلادی بعد از شکست امپراتوری عثمانی‌ها ، متحدانه عمل کرده بودند ، با همان تئوری حالا هم با تجاوزات مکرر اسرائیل بر غزه هجوم آورده و در مورد تعیین سرنوشت مردم فلسطین و غزه صحبت‌های عجیب و غریب و فرمایشات خاصی را مطرح می کنند که گویا مردم غزه باید به یکی از کشورهای دیگر عربی منتقل شوند، تا در انجا آرام زندگی کنند و غزه به یک شهر تفریحی مبدل شود .

این همه اظهارات آنان نشان می‌دهد که غربی‌ها در مورد حوادث اخیر شرق میانه و به خصوص جنگ اخیر فلسطین و حماس با رژیم اشغالی را خیلی ساده فکر می کنند، مثل اینکه کدام صحنه فلمی را تماشا دارند که به همین سادگی تماشا به پایان خواهد رسید و قصه تمام خواهد شد، اما بی‌خبر از اینکه دو سال بعد از آن یک لشکر ۲۰۰ هزارنفری دیگر تازه نفس وارد جبهات جنگ علیه اشغال می گردد و طبیعی است که این لشکر بزرگ با حق سوق‌های مزید و نیرو و تاکتیک جدید وارد صحنه شده و خواب‌های پریشان برای نیل به اهداف استعماری آنها در این خطه را ضرب صفر کردند تا حدی که راه را از چاه تفاوت کرده نمی‌توانند و به گونه سیل برده، به این سو و آن سو دست و پا می‌زنند و بی ارتباط گپ می‌زنند و فکر می کنند این همه شکست‌های پیاپی را با تبلیغات سرد مطبوعاتی خویش در تلویزیون‌ها و رادیوهای دور و برشان پرده پوشی کرده و اذهان مردم را بدان جلب کرده می‌توانند، اما دیده می‌شود که طرف مقابل شان با مورال و حکمت ۱۰۰ برابر بالاتر از آنها تحلیل و تفسیر می کنند و در صحنه نبرد آزادی بخش شان عملاً فعال اند و هر روز نیرومندتر و مصممتر شده می‌روند و حماسه بعد از حماسه را ردیف می کنند.

Hewad Daily

د ورځپاڼو رئیس: انجنیر عُزیر« بریالی»
موبایل: ۰۲۰۲۵۲۶۳۴۰
مسئول مدیر: شبیر احمد عثماني
موبایل: ۰۷۷۷۷۱۹۱۲۵
مسئول سکرتر: شېر محمد نظري
موبایل: ۰۷۸۸۵۰۳۳۷۱

پته: اتمه ناحیه، د المپیک څلورلارې، د حضوري چمن ختیځ
کابل - افغانستان
داړیکو شمېره: ۲۵۲۶۳۴۰ - ۰۲۰
E-mail :info@hewaddaily.com
E-mail : hewad1948@gmail.com
دهیوادورځپاڼې انټرنېټي پاڼې دلاندې وېب سایټ له لارې هم کتلی شئ
ویب سایت: www.hewaddaily.com
دشکایاتو اوتوزیع څانګه:
۰۲۰۲۳۱۲۵۰۹-۰۷۶۶۰۴۴۹۶۶-۰۷۳۶۰۶۰۷۳

شنبه د محرم الحرام ۲۳مه ۱۴۴۷ق کال I د چنګاښ ۲۸ مه ۱۴۰۴ ل کال I د2025م کال د جولای ۱۹ مه

کابل د افغانستان ازبیکستان او پاکستان د درې اړخیزې مشورتي غونډې کوربه و

د افغانستان د اسلامي امارت د بهرنیو چارو وزیر مولوي امیر خان متقي د ازبیکستان او پاکستان د بهرنیو چارو له وزیرانو سره په کابل کې د سیاسي مشاورت درې اړخیزه غونډه ترسره کړه.

دغه غونډه د ټرانس – افغان وسپنې پټلۍ د شونتیا د څېړنې هوکړهلیک له لاسلیکولو مخکې ترسره شوې ده.

د بهرنیو چارو وزارت د معلوماتو له مخې؛ په دې غونډه کې درېواړو لوریو د قوي اړیکو ترخنګ، پر سیمه ییز ثبات، اقتصادي وصل او د ګډې سوداګرۍ پر پراختیا ټینګار کړی دی. د غونډې ګډونوالو همدارنګه ټینګار کړی چې د دوامدارو همکاریو له لارې د سیمې له بالقوه ظرفیت څخه پوره استفاده وشي؛ څو د سیمې د ولسونو د دایمي هوساینې لامل شي. د هېواد د بهرنیو چارو وزیر په خپلو خرګندونو کې ویلي چې د افغان – ټرانس پروژه نه یوازې سیمه ییز اتصال پیاوړی کوي؛ بلکې د درېواړو هېوادونو ګډې ګټې تأمینوي.

ده ټینګار کړی، چې ګډې ګټې، ګډ مسئولیتونه رامنځته کوي او دغه مسئولیتونه یوازې د صادقانه، دوامداره او ګډ کار له لارې ترسره کېدای شي. د ازبیکستان او پاکستان د بهرنیو چارو وزیرانو هم ویلي چې حکومتونه یې په افغانستان کې د تلپاتي ثبات، اقتصادي پرمختګ او سیمه ییز اتصال د پروژو بشپړ ملاتړ کوي او غواړي افغانستان د سیمې د نښلوونکي هېواد په توګه محوري رول ولوبوي. د دواړو هېوادونو چارواکو یادونه کړې چې په افغانستان کې راغلی امنیت او ثبات کولای شي د افغانستان او سیمې ګډې ګټې تأمین کړي. د غونډې په پای کې د یادو هېوادونو ترمنځ د درې اړخیز سیاسي مشاورت پر دوام ټینګار شوی دی.

کرېکټ ۱۲۸ کاله وروسته اولمپیکي سیالیو کې شامل شو

د کرېکټ نړیوالې شورا اعلان وکړ، څه باندې یوه پېړۍ وروسته د اولمپیکي سیالیو نړیوالې کمېټې کرېکټ د ۲۰۲۸ ز کال اولمپیکي سیالیو کې شامل کړ. د کرېکټ نړیوالې شورا ورمه ورځ اعلان وکړ: څه باندې یوه پېړۍ وروسته د اولمپیکي سیالیو نړیوالې کمېټې کرېکټ د ۲۰۲۸ ز کال اولمپیکي سیالیو کې شامل کړ. د کرېکټ نړیوالې شورا زیاته کړې، د ۲۰۲۸ کال نړیوالو اولمپیکي سیالیو کې کرېکټ په شل اوریزه بڼه ترسره کېږي، چې په دې پړاو کې به ۶ د نارینهوو او ۶ د ښځینهوو لوبډلې ولوبیږي. د یادونې وړ ده، چې ۱۲۸ کاله وړاندې کرېکټ د پاریس اولمپیکي سیالیو کې د یوې لوبې په توګه ترسره شوې و. باید وویل شي چې کرېکټ وروستی ځل د پاریس په اولمپیک کې شامل شو، کله چې یوې بریتانوۍ لوبډلې یوې فرانسوي لوبډلې ته ماتې ورکړه. همدارنګه په اولمپیک کې د کرېکټ شاملول کولی شي د سویلي اسیا ... ۳مخ

بادغیس کې څه باندې ۷۵ زره جریبه ځمکه امارتي تشخیص شوه

د عدلیې وزارت په بادغیس ولایت کې د څه باندې ۷۵ زره جریبه ځمکې د امارتي تشخیص کېدو خبر ورکړی دی. دغه وزارت په یوه خبرپاڼه کې څرګنده کړې، چې د یاد ولایت د ځمکو له غصب څخه د مخنیوي تخنیکي هیئت په ناسته کې په تګاب عالم ولسوالۍ کې د څه باندې ۷۵ زره جریبه ځمکې د دوسیې په اړه بحث شوی او په ترځ کې یې یاده ځمکه امارتي تشخیص شوې ده.

د خبرپاڼې د معلوماتو له مخې هیئت همدارنګه پرېکړه کړې، چې د یادې ځمکې دوسیه دې د وروستۍ پرېکړې په موخه مرکزي کمېسیون ته واستول شي. د یادونې وړ ده، چې د اسلامي امارت له بیا واکمنۍ وروسته تر دې دمه لسګونه زره جریبه ځمکه د غاصبینو له منګولو خلاصه شوې ده.

خلیلزاد: د ټرانس -افغان وسپنې پټلۍ د شونتیا د څېړنې هوکړه مهم اقدام دی

د افغانستان لپاره د امریکا پخواني ځانګړی استازی وایي چې د افغانستان – ازبیکستان او پاکستان ترمنځ درېاړخیزه غونډه او د ټرانس – افغان وسپنې پټلۍ د شونتیا د څېړنې هوکړې لاسلیک یو مهم اقدام بلل کېږي.

خلیلزاد دا خبرې په کابل کې د ازبیکستان – افغانستان او

پاکستان د چارواکو ترمنځ له درېاړخیزې غونډې او د یادې هوکړې له لاسلیکولو وروسته پر خپله ایکسپاڼه لیکلې دي. دا په داسې حال کې ده چې ورمه ورځ د ټرانس – افغان وسپنې پټلۍ د شونتیا د څېړنې هوکړه د اسلامي امارت د ټولګټو، د ازبیکستان د ټرانسپورټ او د پاکستان د رېل پټلۍ وزارتونو ترمنځ لاسلیک شوه. د ویلو وړ ده چې دا هوکړه د پاکستان او ازبیکستان د بهرنیو چارو وزیرانو په شتون کې لاسلیک شوې او د اسلامي امارت د بهرنیو چارو سرپرست وزیر په دې غونډه کې ویلي ... ۳مخ

پکتیکا کې ښوونځیو ته د درسي توکو وېش پیل شو

د پکتیکا د پوهنې ریاست مسئولین وایي، چې دغه ولایت کې د ۲۷ میلیونو افغانیو په ارزښت ښوونځیو ته د درسي توکو د وېش لړۍ پیل شوې ده. د پکتیکا ولایت مقام څخه په خپره شوې خبرپاڼه کې ویل شوي چې د یوه همکار بنسټ په مالي ملاتړ په مرکز او ۲۴ ولسوالیو کې ښوونځیو ته د درسي کتابونو او نورو کېټونو د وېش لړۍ پیل شوې. خبرپاڼه کې راغلي چې په یادو توکو کې ۴۲۵۰ کېټه درسي توکي او د هر ښوونکي او زده کوونکي لپاره د



دوی اړونده یوه تعلیمي بکسه او قرطاسیه شامل دي او شاوخوا ۲۰ میلیونه افغانۍ ارزښت لري، د پکتیکا زرګونو ښوونکو اوزده کوونکو ته وېشل کېږي. خبرپاڼه کې ... ۳مخ

جوزجان کې ټرافیکي پېښې ۳ تنو ته مرګ ژوبله اړولې

د جوزجان ولایت په قوشتېپې ولسوالۍ کې د یوه فیلډر موټر د چپه کېدو له امله ۳ کسانو ته مرګ ژوبله اوښتې ده. د قوشتېپې ولسوالۍ د جنایي جرمونو د کشف آمر ملا محمد داوود سعادت باختر اطلاعاتي آژانس ته ویلي چې دغه ټرافیکي پېښه د قوشتېپې ولسوالۍ په پایین خانقاه سیمه کې د یوه فیلډر موټر د چپه کېدو له امله رامنځته شوې چې په کې یو تن مړ او دوه نور ټپیان شوي دي ... ۳مخ

ترکیې له اسرائیلو سره خپلې ټولې سوداګریزې اړیکې پرې کړې

رویټرز راپور ورکړی، چې ترکیې د اسراییلو لهخوا د سوریې پر پلازمېنه له بریدونو وروسته خپل پیغام د خپلې استخباراتي ادارې له لارې اسرائیلي چارواکو ته رسولی دی. په راپور کې د ترکیې د بهرنیو چارو د وزیر هاکان فیدان، له قوله ویل شوي، چې ترکیې له اسرائیلو سره خپلې ټولې ... ۳مخ

پکتیکا کې یو جومات جوړېږي

د پکتیکا د سرروضې ولسوالۍ اړوند د دارالعلوم اسلامیه مارزک دیني مدرسې لپاره د ۳.۵ میلیونو افغانیو په لګښت د یوه نوي جومات د جوړولو چارې پیل شوې دي.

یاد جومات د سیمې د خلکو په مالي ملاتړ جوړېږي او ټمه ده، چې په راتلونکو پنځو میاشتو کې به بشپړ شي.

د پکتیکا د پوهنې رئیس مولوي عبدالوکیل خالد د یاد جومات جوړېدل مهم ګڼلي او دا یې د دیني زده کړو په پراخېدو کې یو مهم ګام بللی دی. نوموړي ټینګار وکړ، چې د پوهنې ریاست د دیني مدرسو ... ۳مخ



احمدالشرع: د سوریې د ملت ګټې له ویجاړۍ غوره ګڼو

د سوریې د انتقالي حکومت مشر احمدالشرع پر دغه هېواد د اسرائیلو بریدونو ته په غبرګون کې ویلي، چې له جګړې وېره نه لري، خو په وینا یې، د ویجاړۍ پر وړاندې د ملت ګټې ورته لومړیتوب لري. په ورته مهال د سوریې پوځ ویلي، چې د امریکا په غوښتنه یې، د یاد هېواد له سویدا ښار څخه شاتګ کړی دی. دغه ښار کې د دروز ټولنې اکثریت وګړي مېشت دي. احمدالشرع همداراز زیاته کړې چې د دروز ټولنې د وګړو د حقونو خوندیتوب د دوی لومړیتوب دی. احمدالشرع ورمه ورځ د اسرائیلو د بریدونو په غبرګون کې یوې ټلوېزیوني وینا کې وویل: ((موږ له جګړې نهوېرېږو، موږ خپل عمر د خپلو خلکو دفاع او له ستونزو سره مبارزې ته وقف کړی، خو د سوریې د ملت ګټې، له ویجاړۍ غوره ګڼو.)) په ورته مهال الشرع په خپله وینا کې خبرداری ورکړی، چې د سوریې خلک له جګړې نهوېرېږي او ټینګار یې کړی، که «کرامت یې وګواښل شي، جګړې ته به اماده شي.»

عراق کې د اورلګېدنې له امله د مړیو شمېر ۶۹ تنو ته لوړ شو

رویټرز خبري اژانس وایي: عراق کې یوه سوداګریز مارکېټ کې اور لګېدنه رامنځته شوې او تر دې دمه ۶۹ کسانو پکې ژوند بایللی او ۱۱ نور ورک دي. اور لګېدنه په الکوټ ښار کې د چهارشنبه په شپه رامنځته شوې او پر ځاني تلفاتو سربېره یې درونډ مالي زیان هم اړولی. اژانس وایي: اور لګېدنه مهار شوې او د لومړي وزیر له لوري د پوره پلټنې امر شوی او درې ورځې ملي ماتم اعلان شوی دی. د سیمه ییزو پولیسو لومړنیو پلټنو ښودلې، چې اور لګېدنه لومړی په هغه پوړ کې رامنځته شوې، چې عطر پکې پلورل کېدل. راپور کې راغلي، چې د اور لګېدنې لامل لا نه دی روښانه شوی، خو پولیسو یې په اړه څېړنې پیل کړې دي. رسنیو ویلي: عراق کې د اداري فساد او ناسم مدیریت او د ودانیزو چارو معیار ته د نه پاملرنې له امله ورته پېښې رامنځته کېږي. له دې وړاندې د عراق شمال کې د ودونو یوه تالار اور اخیستی و او له ۱۰۰ زیات کسانو پکې ژوند بایلود.

۲۲۴۳ کورنۍ له ایران او پاکستان څخه هېواد ته راستنې شوې

د کډوالو ستونزو ته د رسېدنې عالي کمېسیون ورمه ورځ له پاکستان او ایران څخه هېواد ته د ۲۲۴۳ افغان کورنیو د راتګ خبر ورکړی دی.

د یاد کمېسیون دارالانشاء د یوې خبرپاڼې په خپرولو سره ویلي چې د چنګاښ په ۲۵ مه نېټه د تورخم له لارې ۳۷ کورنۍ، چې د غړو شمېر یې ۱۸۰ تنه وو خپل هېواد ته راستنې شوې دي. هلته همدارنګه ۳۵ کورنۍ، چې د غړو شمېر یې ۱۷۷ تنه وو خپلو ولایتونو ته انتقال شوي او ۱۶ زره ۶۲۰ افغانۍ کرایه هم ورکړ شوې ده. د سرچینې د معلوماتو له مخې؛ په تورخم کې له ۸۶ کورنیو سره ۶۳۸ زره افغانۍ مرسته هم شوې ده. پرون د کندهار ولایت د سپین بولدک له لارې ۸۵ کورنۍ، چې د غړو شمېر یې ۴۳۴ تنه و، هېواد ته راستنې او ثبت شوي دي. په سپین بولدک کې همدارنګه له ۸۳ کورنیو سره ۶۷۸ زره افغانۍ ... ۳مخ